UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلاميه
http://unama.unmissions.org

**د ملګرو ملتونو د مرستو پلاوي په افغانستان کی د بين الافغانی سلامشورو کوربه توب کوي**

**د دسمبر نهمه نيټه، کال ۲۰۱۲ :** د ملګرو ملتونو د مرستو پلاوي په افغانستان کی د يو ټول شموله بين الافغانی ډيالوګ د چمتوالي لپاره د سلامشورو ناستي پيل کړي دي. دا ډيالوګ (دويم دور) غير رسمی دی او موخه يی دا ده چی افغانانو ته دا فرصت برابر کړي چی په غير رسمی ډول خپل لرليد د افغانستان د راتلونکې لپاره وړاندی کړي او په هغه باندی بحث وکړي.

په دی سلامشورو کی د مدنی ټولنې استازي، د ښځو ډلې، سياسی مشران او مذهبی څيری ښکيل شوي دي تر څو د هغوي نظريات واخيستل شي چی د ډيالوګ دويم دور په څه ډول تنظيم شي. د يوناما نقش په دی بهير کی د کوربه توب او د ناستو د تسهيل کوونکی تر بريده د افغانانو تر منځ چی هر ډول سياسی دريځ يا سابقه لري محدود دی.

د دويم دور نوښت او دا سلامشوري د يوناما د دندی د هغی برخی سره سمون لری چی د افغانانو په مشری او خاوندتوب باندی د سولې او پخلانيي د بهير څخه ملاتړ وکړي.

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**